برای توضیح یك مطلب مربوط به متن درحاشیه (علاوه برشماره ها واعدادیکه برای این منظور بکار میرود) استعمال میشود. گاهی در چنین موارد ، دوستاره نزدیك بهم (**) نیز استعمال میشود . هرگاه پاورقی دریك صفحه تمام نه شود و به حاشیه ، صفحه آینده ادامه یابد : در اخیر پاورقی این صفحه وشروع پاورقی صفحه ، دیگر، یك ستاره جهت راهنمایی گذاشته میشود . سه ستاره، دور ازهم (***) وقتی استعمال میشود که یك داستان یا موضوع طولانی شامل چندین قسمت باشد و دراینحال در بین هر قسمت سه ستاره گذاشته میشود.

ستاره در زبانشناسی برای تصریح آن اشکال کلمه هایی که استعمال آنها نامأنوس ونامکن باشد ، بکار میرود. بحیث مثال: روان ، خندان ، نویسانه

«تعرض»

وائي : « په ۱۹۷۹ کال کي داسي ویل کیدل چي کیداي شي امین په افغانستان کي دامریکاسره سیاسي معامله وکړي، چي البته داخبري دشوروي اتحاد ددولتي لوړرتبه مسئولینوغوږونوته رسیدلي وي. خو اوس چي دهغي ورځي نه لس کاله تیرشوي دي، داخبره ښکاره څرګنده ده چي په افغانستان باندي دلښکرو دتعرض تصمیم دشوروي اتحادله وګړونه پټ دڅو کسانوترمینځ دترلودروازو ترشاه نیول شوي دي.که چیري په افغانستان کي دنظامي مداخلي سوال په آزاد ډول ترغورلاندي نیول شوي وي، ددي امکان وو چي دکمونست ګوندډسیاسي بیرولو غړوته نیولي دجمهوریتونوترسطحي او ان داچي دشوروي ټولو وګړو دغه مداخله نه غوښتله اونه دي نه چتوو چي په بیلابیلو تومونودي افغانستان ته خپلي لښکري ولیږي ».

ولي دلښکرودتعرض لپاره د۱۹۷۹ کال دډیسمبر دمیاشتي ۲۷ نیټه وټاکل شوه !

په دي اړه ایوان پیلیاوف داسي وائي :« دډیسمبر دمیاشتي ۲۷ نیټه په دي خاطرټاکل شوي وه ، چي یوه ورځ دلښکرودتعرض نـه وروسته یعني دډیسمبر د میاشتي پـه ۲۸ نیټه دافغانستان او پاکستان ترمینځ ډیرمهم مذاکرات پیل کیدونکي ؤ. دافغاني لوري سره دغه مذاکرات دپاکستان دهغه زمان دبهرنیوچارو وزیر پرمخ بیول . ددي نه علاوه دتیریږیه اکثره هیوادونوکي پـه دغه موقع دعیسي علیه السلام دزیږیدني جشن لمانځل کیده . په دغـې ورځوکي هیچادډي فکرنه کاوه چي زمونږ دهیوادمشران دي پرګاونډي اوخپلواك هیوادته دمداخلي لاسونه اوږده کړي .

په افغانستان باندي دروسي لښکرو دتعرض په اړه بوبل تن بوریس ،نیکولایویچ پانماریووف وائي :« زه په دي پلان هغه وخت پوه شوم چي ګرومیکوراته په وروستیو شیبوکي وویل چي په افغانستان باندي دلښکرودتعرض پلان جوړشوي او تیول شوي دي باید روایم چي دلاس غزوني په دي تصمیم کي لوبه وتلوه اندروفوف درلوده ، دهغه سرو مخکي له مخکي په چکوسلواکیاکي ببرك کارمل پیداکړي وواویه توموږي هیواد کي ئي کارمل دافغانستان دراتلونکي مشرتابه لپاره پوره چمتوکړي ؤ، داندروفوف سره په دي کارکي دبریژنیوف پوره ملګرتیامل وه . زه دخپل مسئولیت له مخي وایم چي دشوروي اتحاد دهغه وخت مشران په جدي ډول ددي نه په ویـره کي ؤ چي زمونږ جنوبي پولوته څیرمه دي په یوه ګاونډي هیواد کـي بـو داوږدي مودي دوست نظام دنوروپه ګټه تغیرومومي ، زمونږ دهیواد مشران په جنوبي سیموکي دخپل هیواد پرضد دنویو راکټونو دځاي پرځاي کولونه ویرزیات درلود. »

پانماریووف وائي : « د وروستیو پلټنو څخه داسي ټرګندیږي چي په افغانستان باندي دلښکرودتعرض وروستي تصمیم دکرملین همدغو څلورو واکدارانو دډیسمبر دمیاشتي په ۱۲ نیټه مابنام ناوخته نیولي ؤ، په دي اړه لاتراوسه پوري دشوروي په اسنادوکي کـوم لیکلي سندنه دي موندل شوي، حتي د لښکرو د تعرض په رابطه ددفـاع دوزارت اوامـر هم دلیکل شوي سندپادبرکشیف پـه شکل نه په ارشیف اونه پـه کوم بل دولتي ارګان کي ترلاسه شوي . اوس داجوته شوه چي دلښکرو دتعرض په اړه ټول تصمیمونه اوددفاع دوزیراوامریه شفاهي ډول وړکـول شوي دي .»

دډیسمبر دمیاشتي دپیښوپه اړه تورن جنرال ولادیمیرالکسویچ بکدانووف داسي وائي : « زه هغه وخت دجنوبي استقامت دعمومي اپراتیفي قرارګاه قوماندان وم ، دډیسمبر دمیاشتي پـه لومړي نیټه اوستینووف خپلو نـږدي همکارانوته خبرورکړ . « امکان لري چي لښکري افغانستان تـه لاړي شي »، دډیسمبر دمیاشتي په ۱۰ نیټه دلښکرودلیږلولپاره تیاري پیل شو، دهمدغي میاشتي په ۱۳ نیټه ددفاع دوزارت امرصادرشوچي هرڅه زرترزره یوه اپراتیفي ډله دترکستان دنظامي حوزي سره دمرستي په مقصد جوړه کـړي. دډیسمبردمیاشتي په ١٤ نیټه سهار وختي یـوه ډلـه دلوي درستیزدمرستیال جنرال اخرامیووف په مشري دترمیزپه لوري الوتنه وکړه . په همدي وخت کي ددفاع دوزیرلومړي مرستیال مارشال سکلووف چي په رخصتي تللي ؤ په بیړني ډول له رخصت څخه راوغوښتل شواوترمیزته ولیږل شو، چي ترمیز تـه په رسیدوسره دلیږل شوو داپراتیفي ډلي ټورکسان همدغلته له ده سره یوځاي شول .

دډیسمبر د میاشتي پـه ٢٤ نیټه اوستینووف دلښکرودتعرض د بریکتیف ولیکه، په راتلونکي ورځ زه دسوچي دښارداستراحت نه مسکوته راوګرځیدم په کورکي ناسـت وم چي دتیلفون زنګ راغي ګوشکي مي اوچته کړه چي په بیړني ډول ئي کارتـه وغوښتلم . ماپه تیلفون کي پوښتنه وکړه څه پیښه شوي ده ؟ په ځواب کي راته وویل شول :« له سیف نـه ئي ستا خریطه راخیستله » سمدستي زه په هرڅه پوه شوم . زماپه یاددي چي دلښکرودتعرض نه څه موده وړاندي ماپه یوه خریطه باندي کارکړي ؤ ، ماپه دغه خریطه کي دافغانستان ښارونه په نښه کـړي وو چیرته چي زمونږ لښکروکولاي شول دګارنیزیونونو په شکل په دغوښارونوکي ځـاي پرځاي شي، ترڅودترمیز، کابل اوکوشك ، کندهارلوي لاري وساتي . زما دخریطي دمحاسبي له مخي ددغي کاردترسره کولو لپاره ٦ فرقي لازمي وي . هغه وخت چي ماپه دي خریطي کارکاوه نـږدي ملګرویه په خنداکي راته ویل : « لـیري کړه دیوه ګاونډي اوخپلواك هیواد پرضد خریطي رسموي »، کـله چي ماپه تیلفون کي واوریدل چي ستاخریطه یي راخیستـه ، زماسرګنګس شواودامي وویل «ولي اوڅه لپاره دلښکروتعرض ؟» .

ایران خواستار میانجیگری میان هند وپاکستان برسرمسئله کشمیرشده است

تهران -
سیدیوسف رضا گیلاني سخنګوي پارلمان پاکستان که دررأس هیئتي مصروف دیدارازایران است روزشنبه گذشته باعلي اکبر هاشمي رفسنجاني رئیس جمهورایران دیدارکرد .

طبق گزارش مطبوعات پاکستان دراین دیدار رئیس جمهور ایران باابراز تشویش ازوضع موجود درکشمیراعلام داشت که ایران حاضر است درزابطه باحل مسئله کشمیر میان هندوپاکستان میانجیگري کند تادرنتیجه آن ثبات واستحکام درمنطقه حفظ شود .

رفسنجاني درادامه سخنانش افزود که بدبختانه صدراعظم اسبق هند به تقاضاي ایران درزابطه باميانجیگري میان اسلام آباد ودهلي نو برسرمسئله کشمیرجواب مثبت نداد.

همچنان آقاي گیلاني ازاین طرح ایران استقبال نموده آنرا یك اقدام نیك توصیف نمود.

بیته به منظومه حضرت سنائی علیه الرحمة

ملا بنویس

علـم کـزتـو تـرا نبستانـد ،
جهل ازآن علـم بـه بـود صد بار
نـد بـدان لعنت است بـر ابلیس
کـه نـدانـد همـی بین زیـار
بل بـدان لعنت است کـانـدردین
علـم دارد بـه علـم نکـند کـار
ازچـه راکت زننـد بخـانه مـا
طالب ودامـلای شیـرین کـار
طـالبـان خـوب دانند ومادانیم
خلـقی و پـرچمی انـد بـر سرکار
شعلـه وپـرچم است وخلـق وستم
انکـه طالب بـود نبـوده شـرار
طالبان شـریعت انـد همـه
کـز شریعت نـدیـده اند انـوار
طالبـان را بکـورشـرع نبـي
دیـن ومـذهب نـهاده انـد بکنار
طالبـان را زقتـل مـا گـویـند
معـنی دیـن بـود همین کشتار؟
خـانـه وشهـرمـا خـراب نمود
پاي بـوسـان دشمـن غـدار
قتـل وغارتگـري ورنج عـذاب
ملك هجـرت کجـاست وراه قـرار
ای بـه دیـدارفتـه چون طاوس
وی بگفتـارغـره چون گفتـار
غـول بـاشد نـه عالم آنکه ازاو
بشـنوی گفت ونشـنوی کـردار
عالمـت غـافـل است وتـوغـافـل
خفتـه راخفتـه کـی کـند بیدار

ای میهن

شعرازغلام محمد ناخوان

کنم تـوصیف هـا ازشوکت وشان توای میهن
سروجانی کـه مـن دارم بـه قربـان تـوای میهـن
تمام شهـرکـابـل جـان هـوای جـانفـزادارد
همیشه ازنسیـم بـادپـروان تـوای میـهـن
چه حاجت آب یخچال است وبرف وکوك وفانتارا
شراب انطهـور اسـت آب پغمان توای میهن
کنم توصیف گـل یا ازجمـال مـاه رویـانـت
گـل بسیـار دیـدم در گلستان تـوای میهـن
به هرات پیرگازرگـاه بـه قندهـار خرقـه مـولا
بنـام بـام دنیاهسـت واخـان تـوای میهـن
تـومشك عنبرین ازنـاف آهـوی ختن داری
پیـالـه قرمـزاسـت چشم غزالان تـوای میهن
همینست آرزو در دل مـن بیچـاره «نـاخوان »
کـه بـاشـم در قطـار عندلیبان تـو ای میهن

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

نمبرمسلسل (۱۱۸۷) سال نزدهم یکشنبه (۷) اسد ۱۳۷۵

قيمت يك شماره (۵۰۰) افغانى (۳روپيه)

نبوي لارښووني

له حضرت ابوالدرداء (رض) نه روايت دي چي حضور فرمايلي دي : آيا تاسو خبرنه کړم دتاسو دبهترين عمل نه . کوم چي دستاسو دمالك په نزد ډېرپاك دي او په کوم چي ستاسو درجي ډيري اوچتيږي ، اوتاسودپاره دسرواوسپينوخرڅ کولونه بهتردي، اوددي نه هم بهتردي چي تاسو ددښمن سره مخامخ شي، تاسودهغوي څټونه پريکوي اوهغوي دتاسو څټونه پرېکوي (يعني صدقي اوجهادنه هم بهتردي) هغوي عرض وکړ يا رسول الله ضروربي راته وښيئ، حضور(ص) وفرمايل : هغه دالله تعالي ذکردي .

(امام ترمذي)

احکام دين خودرابياموزيم

بيان نمازهاي نفل

نوافل سفر

دروقت روان شدن بسوي سفر، مستحب است، که انسان دورکعت نمازدرخانه خوانده، وبعدازآن جهت سفربيرون آيد. ودرهنگام برگشت ازسفر نيز، به مسجد رفته ، دو رکعت نماز را اداء نموده وبه خانه داخل گردد. رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وقتيکه بخانه تشريف ميآوردند اولاً به مسجد رفته دورکعت نماز اداء ميکردند وايشان صلي الله عليه وسلم ارشاد فرمودند: « هيچ کسي درعقب خود ازآن دو رکعت نمازي که درخانه خويش درموقع سفراداء کرده بهترچيزي نگذاشته است» در دوران سفرنيز اگرانسان اراده کند که درکدام محلي بماند. مستحب اين است که اولاً درآنجا دو رکعت نمازبخواند.

دامريکا غږ راديو درپوټ له مخې :

پاکستان دتورخم دلاري اجازه ليکونه منسوخ کړل

پېښور - دزمري ۶ مه :

دپاکستان مرکزي حکومت په تورخم کي خپلو ماموريتونه امرکړي چي دپاکستان داستخباراتي اداري (آي اس آي) لخواچي دتورخم څخه دتېريدلو لپاره دموټرو او خوراکي موادو کومي اجازه نامي صادري شوي په هغودي عمل کول بندکړي .

دامريکاغږراديو درپوټ په اساس په تورخم کي دهغوموټرونو مالکانو چي دغسي اجازه نامي ترلاسه کړي وايي چي دپنجشنبي دورځي راپه دي خواهغوي دتورخم څخه دتېريدونه منع کړل شوي دي .

د ورپېل رپوټ په اساس په تورخم کي يوه پيکپ موټر چي تيل په کي بارو اودآي، اس ، آي لخوائي دتېريدو اجازه درلوده دجمعي ترورځي پوري ځاي په ځاي ولاړو.

درپوټونوپه اساس آي اس آي دپاکستان دنورو ادارو په څنګ کي په تيروڅوکلونو کي دافغانستان مجاهدينو پوري مربوطو قوماندانانو او با نفوذو شخصيتونوته دتورخم څخه دتګ راتګ په وخت دموټرو او خوراکي موادو دتېريدواجازه نامي ورکولي .

دوکتور هول

درمورد زمان مشخص آن بي خبربود. حکمتيار اطلاع داده بود مذاکرات ميان افراد حزب اسلامي وجمعيت اسلامي درجلال آباد صورت گرفته است .

همچنان اتحاد کابل به طالبان اين پيام را دربي داشت که همه افراد رئيس جمهور وصدراعظم ميله هاي تفنګ شان به جانب اين ګروه نشانه خواهند رفت وطالبان درپاسخ بطور مسلسل راکت باران کردند . همچنان جنرال اسماعيل خان سابق والي هرات بر مواضع طالبان حمله کرد وآتش اين درګيري را تيزترنمود .

اتحادي که درمزارشريف (عشق آباد) تشکيل شد قبل ازآنکه دوکتور هول به ماموريتش آغازکند، رودشد. آنچه که دوکتورهول به آن منحيث رويداد نيك نګاه مي کند، ترديد اتحاديه جديد ازجانب شوراي جهادي ننګرهار است و عامل ديګري هم ابراز علاقمندي جديد امريکابه افغانستان است آنچه که موجب و مايه اميدواري هول ګرديده تجديدعلاقمندي اداره کلنتن به افغانستان شده است نقش فعال ايران درقضاياي منطقه بوده است. پاکستان کشور متحد امريکا درمنطقه نيز با اين نقش پرسرايران مخالفت دارد . علاو برآن ايالات متحده به بازارهاي آسياي ميانه چشم دوخته است که اين درذات خودعامل ديګري براي تجديد توجه آنکشور به منطقه بحساب ميآيد .

بهرحال افغان ها درمورد علاقمندي کشورهايي که سال ها قبل افغانستان رافراموش کرده اند ضررنمي کنند .

بهرحال دوکتور هول حقايق واوضاع را درمنطقه ارزيابي مينمايد قبل ازآنکه به انجام ماموريتش که ناممکن مينمايد، اقدام کند . اما وي ميګويد که : «من يك متخصص وکارشناس هستم ».

پيمان ائتلاف

بحران کشور را حل نخواهد کرد بلکه باعث ادامه آن خواهد شد.

وي اظهارداشته که من فکرميکنم شرکت کنندګان اين ائتلاف آمادګي قبلي نداشته اند صرف به خاطر خورسندي کشور ازبکستان که ميزبان ائتلاف مذکوربود ايجاد ګرديده است .

داکتر فاروق اعظم علاوه نمود: حضرت صاحب مجددي واستادکريم خليلي تاکنون عضويت خويش رادرجبهه مذکوررسماً اعلان ننموده اند وجنرال دوستم وپيرسيداحمد ګيلاني بنابرموقف ضعيف نظامي وسياسي شان شايد نسبت به آينده همچرائتلاف وجبهه ئي خوشبين باشند.

وي درمورد اشتراك حاجي عبدالقدير درين ائتلاف مذکور ګفت : حاجي عبدالقدير نميتواند در همچو ائتلافي نقشي بارزي ايفا کند زيرا وي يکي ازاعضاي شوراي ولايات مشرقي ميباشد که اکثراعضاي شوراي مذکور بادولت اسلامي افغانستان روابط نيك وحسنه دارند بنابرين وي نميتواند خلاف ميل بقيه اعضاي شورا چنين اقدامي نمايد .

مقدار کمکهاي اداره

جاري براي مردم افغانستان بخصوص شهريان کابل مورد ارزيابي قرارګرفت .

داکتر لفرايي با ابراز امتنان ازکمك هاي بشر دوستانه سازمان ملل متحد اظهاراميدواري کرد. علاوه برشهريان کابل مردم ساير ولايات کشور ازينګونه کمك ها مستفيدګردند . درين ديدار مسئول برنامه غذايي سازمان ملل متحد اطمينان داد که دربخش کمك هاي اين اداره براي مردم افغانستان افزايش بميان خواهد آمد

رپوټ زياتوي چي دپاکستان ددي وروستي اقدام هدف تر اوسه څرګند شوي نه دي .

دلغمان ولايت

ارزښتناکي ويناوي وکړي .

غونډي دورور حکمتيار دسولي بهير، داسلامي قوانينو د تنفيذ اوداسلامي اصلاحاتو داعلان څخه ئي دلغمان ولايت دمختلفو اقشارو په نمايندګي بشپړملاتړڅرګند اودائي د اسلامي انقلاب دارمانونو دتحقق په لاره کي مهم ګام وباله ، وروسته دولايت مقام لخوا دلويي دوري فارغينو او همدارنګه دنوموړي مدرسي ددارالحفاظ دځانګړي برياليو شوبوحافظانو ته پر ليکونه ورکړل اودځانګړي مراسمويه ترڅ کي پګړۍ وتړل شوي .

صدام حسين ازحمله

قبل ازانفجار ماين از منزلش بيرون شده بود. تلويزيون يادشده اين حادثه را خطرناك ترين حمله برجان صدام حسين بعداز جنګ ۱۹۹۰ - ۱۹۹۱ خليج خوانده است .

تصميم داشتيم

رئيس انستيتوت پيداګوژي ننګرهارتصريح کرده در اوايل، هيئات تصميم ګرفته بودکه پانکنوت هاي افغاني چاپ کند ، اماپس ازتصميم خويش منصرف شده وترجيح داديم که ازچاپ اين پانکنوت ها بايدصرفنظر شود.

وي درمورد اينکه چه عاملي باعث شدتاهيئت ازتصميم خود برګردد، چيزي نګفت .

عضوشوراي جهادي ننګرهار، تشکيل جبهه جديد درافغانستان را رد نموده افزوده است که ما خود سرانه درتشکيل چنين ائتلاف ها شرکت کرده نمي توانيم . وي افزود مابکاري که شوري هاي جهادي وعلمي ننګرهار با آن مخالفت داشته باشند، اقدام نخواهيم کرد .

رئيس انستيتوت پيداګوژي ننګرهار علاوه کرد ما باهر اقدامي که وحدت ملي مارا صدمه بزند مخالفت مي ورزيم .

هيئت

اسلامي شامل مي باشند، طي ديدار وګفتګوبابرادرحکمتيار ،هدايات لازم بدست آورند .

دراين ديدار ،برادرحکمتياربه هيئت مذکور اظهارداشت که پاکستان خانه ما بوده ودردوران جهاد ومهاجرت باافغانها کمك فراوان و فراموش ناشدني اي نموده وحالاهم باماهمکاري مي نمايد .

قراراست هيئت بلندرتبه دولت اسلامي افغانستان طي سفرش به اسلام آباد بامقامات عالي رتبه حکومت پاکستان پيرامون روابط و مناسبات ذي علاقه دوکشور بحث وګفتګوي تفصيلي به عمل آورد که مسايل بازګشايي مجدد سفارت اسلام آباد در کابل ، تحکيم مناسبات حسنه ميان دوکشورهمسايه وتجارت دوطرفه شامل آن مي باشد .

هم چنان هيئت مذکور راجع به واردات مواد خوراکي و ساير اشياي مورد ضرورت ازپاکستان به افغانستان وصادرات ميوه تازه وخشك از افغانستان به اين کشور نيز مذاکره خواهد کرد .

درعين حال منابع افغان در پشاور مي ګويند که سفرهيئت دولت اسلامي افغانستان به پاکستان منافع دوکشور را دربي داشته و روابط ديپلوماتيکي و مناسبات دوکشور مجدداً بهبود وتحکيم خواهد يافت .

منابع متذکرشده اند اين اقدام پيشرفت وتحول خوبي است که توسط حکومت افغانستان براي بهبود روابط دوکشور روي دست ګرفته شده .

له ګومل

دمجاهدينو په لاس لسويلي. اوارګون ولسوالي مرکز چي له طالبانوسره دي دمجاهدينو تر بشپړي محاصري لاندي قرارلري.

رپوټ وايي دشرني - ارګون لوي سړك پرون دمجاهدينو په لاس ولويده اوارګون ته لاربري شوه .

دګومل - ارګون لوي سړک دخالدارګي دمجاهدينو په کنټرول کي ده، او همدارنګه د زيروک [illegible] ځکه چي دکابل [illegible] لاردسيس دمجاهدينو کنټرول کي دي .

دافغانستان لپاره

په داګست په پنځمه کندهاراوداګست اته باميانوته سفرکوي ترڅو دمختلفو لوريو اوګوندونو نظريات راغونډ کړي .

ډاکټر هول چي تردې مخکي يي له پاکستاني مقاماتوسره ليدنه کتنه کړي، په اسلام آباد کښي يوې اخباري مرکې ته وويل : چي ده شپږکاله پرله پسي دجنوبي آسيا په چاروکي دآلمان دډيپلومات په توګه دنده اجراکړي اودافغانستان دجريانونو په اړه کافي معلومات لري.

ډيپلومات دي اوملګروملتوسازمان له خوا دمحمودمستيري پرځاي ټاکل شوي . دجلال آباد په هوايي ډګرخبريوته ترڅ کي هيله مندي ښکاره کړه چي دخداي (ج) په مرسته به په خپل ماموريت کي برياليتوب ترلاسه کړي .

نوموړي وويل : زه له ځان سره دافغانستان دکړکيچ دحل لپاره مشخصه طرحه نلرم خودکړکيچ له ټولو شاملو اړخونو سره به خبري کوم او دهغي خبرونه وروسته به دټولو افغانانو لپاره دمنلو وړطرحه وړاندي کوم .

ټاکل شوي چي ډاکتر هول دراتلونکي سه شنبه (داسد په ۹ مه) کابل اوچهارشنبي (داسد په ۱۰ مه) په مزارشريف ته ولاړشي .

همدارنګه ويل کيږي چي ناربرت هول

داسلامي دولت

امنيت لوي رئيس فهيم او دوسله وال پوځ دلوي درستيز کفيل ډګرجنرال محمد نعيم « وردګ » ګډون کړي و .

په غونډه کي دوسله وال پوځ په قرارګاوو اودهيواد په امنيتي مسئلو پوري مربوطي موضوع ګاني وڅيړل شوي اولازم تصميمونه ونيول شول .

داسلامي دولت

دخپلو قومونو او د کمپ دمهاجرينو په نمايندګي يي د صدارت مقام ته دورور حکمتيار دټاکل کېدو مبارکي ووېله . اودخپلوخبرويه ترڅ کي دهيواد دروان بحران په حل کي دټولو اړخونو دګډتفاهم پرضرورت ټينګاروکړ .

دغونډي ويناوالو همدارنګه دهيواد دصدراعظم له خوا اعلان شوي اصلاحات يي وستايل ، اوداسلامي دولت اوحکومت له سوله ايزو، اسلامي پلانونوڅخه يي ملاتړڅرګندکړ .

په رپوټ کي ويل شوي دغونډي برخوالو له طالبانو څخه هم وغوښتل ،چي دسولي اوتفاهم په پروسه دي ورګډشي اوله جګړي څخه دي لاس واخلي .

همدارنګه دغونډي ويناکونکودهيواد له صدراعظم څخه وغوښتل ترڅوپه ګاونډيوهيوادو په تيره بيا په پاکستان کي دميشته مهاجرينو دستونزو اوکړاوونو دحل په هکله لازم اقدامات وکړي .

غونډه په هيواد کي داسلامي نظام، بشپړي سولي اوامنيت دټينګښت په دعاپاي ته ورسيده .

ميلاد باسعادت

محمد (ص) به تفصيل صحبت نموده ودربرخي ازسخنان خويش فرمودند : ميلاد مبارك پيغمبراسلام نه تنها روز تولد بزرګترين شخصيت انسانيت است بلکه روزتولدتقدس «بشر» نيز هست که کسي نظيرآنرانديده است .

وي درقسمتي ديګر ازسخنان خود افزود درين روز اساس سرنګوني دورجاهليت ګذاشته شد .

قرارګزارش متعاقباً صفيه افضلي وحميده صديقي بالنوبه درمورد کارنامه وسيرت پيغمبر بزرګواراسلام وتوجه آن درزابطه به اهداف حقوق حقه زنان صحبت نمودند .

دراخيرمحفل صدراعظم کشوربه سوالات اشتراك کنندګان مجلس پاسخ داد وبعداً تحايفي که براي استادان سيمناراز جانب نهضت اسلامي زنان افغانستان تهيه ګرديده بود توسط برادرحکمتيار صدراعظم کشور توزيع ګرديده ومحفل بادعائيه يي به پايان رسيد .

دجهادي مشرانو غير . . .

دغه چوکات کي نشي راتلاي، ځکه چي ددوي جګړه دهغوکسانو په مقابل کي ده چي هغوي په خپله دکفراوالحادپه مقابل کي جهاد پيل کړي، دوام يي ورکړ او اوس هم لګيادي دقرآن اوسنتو دتطبيق لپاره هلي ځلي کوي. طالب څنګه کولي شي چي دهغه چاپه مقابل کي خپله جګړه په مذهبي لحاظ مجازوبولي چي هغوي په خپله په هيواد کي دقرآن دحاکميت لپاره هره ورځ نوي پروګرامونه طرح کوي اوعملي کوي يي ؟ زه فکرکوم چي طالب په هيڅ منطق نشي کولي چي د[illegible] دولت په مقابل کي خپلي پرتيي سياسي جګړي ته دمجازمذهبي جنګ بڼه ورکړي .

دطالبانو وله دبلي هري سياسي ډلي په شان سياسي اهداف لري، اوددغواهدافو دترلاسه کولو لپاره يي جګړي ته دوام ورکړي. ددوي سترسياسي هدف دادي چي په هيواد کي قدرت ترلاسه کړي اوپه ټول هيواد په تنهايي حکومت وکړي . دغه هدف ته درسيدلو لپاره دوي دجګړي ددوام لارغوره کړي . اما شواهد ښيي چي دوي نشي کولي چي دجګړي له لاري خپل هدف ته ورسيږي . ددغي ادعا دصدق ډيرمهم دليل هغه نظامي بن بست دي چي طالبان له څه باندي دوه کلونو نه راپه ديخوا ورسره دکابل د ښار په شاوخواکي مواجه دي، دوي له هغوځايونونه چي حزب اسلامي ورته دوه نيم کاله مخکي دخپل محبوب رهبر په امر په خپله پريښودل، د کابل دښار په لوريوانيج هم نه دي نژدي شوي . دوي په خپل ټول قوت چي څوځو ځله يي وازمايه ونشوکړي چي موجودنظامي بن بست مات کړي . وروسته له دي هم نشي کولي چي موجودنظامي وضعيت په خپله ګټه بدل کاندي ، ځکه چي اسلامي دولت دحزب اسلامي اوجمعيت اسلامي ترمنځ دسولي دترون په لاسليك کيدو له پخوانه زيات قوي شوي اواوس په ښه توګه کولي شي چي دکابل له ښارنه دفاع وکړي . که احياناً طالبان دکابل په شاوخواکي موجود [illegible]

دنيولو معني نه لري. دکابل له نيولو وروسته به بيا دوي مجبوروي چي دهيواد شرقي، شمالي اومرکزي برخي ونيسي. دوي بايد د هيواد دجنوبي او غربي ولايتونوتيول غره نکړي .

هغه عوامل چي په جنوب اوغرب کي يي دطالبانو پرمختګ ته لاره هواره کړه ، دهيواد په شمالي اومرکزي برخوکي نه دي موجود . په جنوب کي طالبانو په خپلوسترګولېدل چي حزب اسلامي ورته په خپله خوښه خپل مناطق خوشي کړل اودکابل په لوريي ددوي دپرمختګ لپاره زمينه مساعده کړه . دهيواد په شمال اومرکزي برخوکي هيڅوك هم دوي ته په خپله خوښه خپلي سيمي نه پريږدي . ځکه چي په شمال اومرکزي برخوکي مسلط قوتونه هريوځانته دلايل لري چي له طالبانوسره په خپلوټولو امکاناتو وجنګيږي . فکرکوم ځانته حزب وحدت اسلامي به له طالبانو سره دهيواد په مرکزي برخوکي لس کاله جګړه وکړي. دطالبانوبه په ياد وي چي حزب وحدت اسلامي داستاد مزاري جسد چي ددوي په ګوليوسوري و دحضرت عثمان دکميس په شان تر مزارشريف پوري کوربه کوروګرځاوه . هغه کرکه اونفرت چي حزب وحدت په خپل دغه کار دطالبانوپه مقابل کي خلق کړ ، ښايي سل کاله په خپل قوت باقي وي .

په دي اساس طالبانوته پکارده چي خپل سياسي اهداف او هغوته درسيدلو ستراتيژي اوتاکتيکونه په هيواد کي دموجودوسياسي اونظامي واقعيتونو په پام کي نيولو سره بيا ارزيابي کړي . فکرکوم چي دطالبانو سياسي ګټي او دهيواد عليا مصالح ددي ايجاب کوي چي طالبان له جګړي نه لاس واخلي اودسولي په هغي عملي کي شامل شي چي دحزب اسلامي او جمعيت اسلامي ترمنځ دسولي دميثاق په لاسليك کيدلو پيل شوي ده . که نه نودولس فرد فرد به يي دجګړي ددوام دعاملينو په توګه محکوم کړي ، ښايي په اصطلاح بيطرفه جهادي [illegible]

ومارسلناك الا رحمة للعلمين

دحضرت محمدمصطفى صلي الله عليه وسلم مبارك ميلاد دټول عالم لپاره درحمت زيري دي .

کله چي محمدمصطفى صلي الله عليه وسلم دنياته تشريف راوړ اوبيا دآخري پيغمبرپه توګه دټول انسانيت لپاره مبعوث شوتودعربوځمکه دشرك اوکفرپه تياره کي ډوبه وه انساني کرامت اواخلاقي معيارترپښولاندي شوي و، قومي اوقبيلوي تعصب آخري حدته رسيدلي و، جهالت، ناپوهي ، ظلم، جبر، ناانصافي، قتل، ډاکې، لوټ مار، شراب، نشه له ښځوسره بدسلوکي اودلوڼو ژوندي ښخول بالکل عادي کارو، په هغه وخت کي هغه ځواك به زيات محترم اوعزت من ګڼل کيده چي زيات قتلونه به ئي کړي و، لنډه داچي په هغه وخت کي ټوله فضاوحشت اوبربريت نيولي وه ، ټولي قبيلي يخپلوکي سره دښمنان اوپنځواوو، يوه قبيله دبلي قبيلي دوښمن تږي وو، اوس ،خزرج بني نظيراوبني قريظه قبيلي دبښمني داسي سخت ترين حدته رسيدلي دوچي په تاريخ کي ددي مثال کم تېرشوي .

کله چي نبي کريم صلي الله عله وسلم دپيغمبر په توګه مبعوث شوتودکفر،شرك، اوظلم اوزياتي تورې لړي ختمي شوي اوپرځاي داسلام دسپيڅلي دين مبارکه رڼاخوره شوه ، ددښمنۍ اوتعصب پرځاي وروروګلوي اومينې فضاقائمه شوه ، لکه چي الله تعالي فرمائي : تاسي يادکړي هغه وخت چي پخپلو کي سره دښمنان اوداووردکندي په غاړه ولاړوي بيا الله پاك دآخري پيغمبر محمدصلي الله عليه وسلم په برکت اوطفيل ستاسي په زړونوکي محبت واچول اوخپل نعمت (ددين) په برکت مو پخپلوکي ورونه وګرځولي

دحضرت محمد صلي الله عليه وسلم اخلاق کرداراوکړه وړه دومره اوچت اوزړه پوري وچي داسلام سرسختترين دښمنان هم دهغه صلي الله عليه وسلم له حسنه اخلاق نه له متاثرکيدونه بغير پاتي نشول، حضرت عمر رضي الله عنه اوحضرت عکرمه بن ابوجهل غوندي اشدترين کافران چي دمحمدصلي الله عليه وسلم دقتل لپاره يي هڅي کړي وي دمحمدصلي الله عليه وسلم دغوره اخلاق په وړاندي خپل سرونه ټيټ کړل اوداسلام په مقدس دين مشرف شول، په مکه مکرمه اومدينه منوره کي داسي يوکافرنه وپاتي چي دمحمد صلي الله عليه وسلم له شخصيت نه نه واي متاثرشوي دعربوټولو وګړو به ورته امين ويل اوخپل امانتونه به يي هغه صلي الله عليه وسلم کره ايښودل ، هغه جلاخبره ده چي دتعصب اوحسد له کبله ابي لهب؟ ابي طالب اوابوجهل غوندي خلکوپرهغه صلي الله عليه وسلم ايمان رانه وړ .

څومره بختوروو هغه انسانان چي دحضرت محمد صلي الله عليه وسلم په ديدن اوملاقات مشرف شول اودعوت ته ئي لبيك ووايه، دهغه صلي الله عليه‌وسلم دمبارك قدم په نقش باندي روان شول ، زړونه ئي دالهي دين په رڼا منورشول اوپرالحي ديوالله جل جلاله په وړاندي خپل سرونه ټيټ کړل، دبنده له بندګي نه آزاد يوازي دالله بندګي ته ئي غاړه کيښوده، له هروول جاه طلبي، خودغرضي، شخصيت پرستي اوماده پرستي له شيطاني هوس نه خپل نفسونه پاك اويوازي دالله جل جلاله دبندګي غمونده ئي په غاړه کي واچوله، دهغوي په زړونوکي يوازي دالله جل جلاله ، دهغه محبوب پيغمبر محمدمصطفى صلي الله عليه وسلم اودمقدس دين مينه اومحبت ځاي ونيول مدينه منوره اومکه معظمه دټول انسانيت لپاره دمينې ورورګلوي، اخلاص، ايثار، عدل اوانصاف يوه روښانه مناره وګرځيده چي بيابي وړانګي ددنيا ګوټ ګوټ ته ورسيدلي، هغه عرب چي يوڅت دناپوهۍ اوجهالت په توره تروږمۍ کي پوډيل مريې غوغولي اوظلم اووحشت لوي مرکزو دمحمدصلي الله عليه وسلم د اوچتوديني تعلماتو له کبله په ګرده نړۍ کي دامن اوتهذيب ګهواره وګرځيده، دلوړتوم اواحترام خاوندان شول په اخلاقي سياسي، اقتصادي عسکري اوانساني مساوات په ډګرکي ځانګړي لقب ترلاسه کړاوديولي نړۍ انسانانولپاره دتقليد مرجع وګرځيده ددنيالوي لوي امپراتورۍ لکه روم ،قيصراوکسري غوندي سلطنتونه دمسلمانانو قدمونولاندي رالغلل اودالهي دين پلوشي په ټولو کائناتو کي خوري شوي، داسترګار په هغه صورت کي ترسره شو چي دعرب اوعجم وګړو دالله خوږښي محمد صلي الله عليه وسلم دعوت اوبلنې ته پخپلوزړونوکي ځاي ونيوه اودعمل په ميدان کي دمحمدصلي الله عليه وسلم دستتو متابعت وکړ، مسلمانان هرکال ربيع الاول دخپل خوږ پيغمبرمحمدصلي الله عليه وسلم دولادت جشن کوي اولمانځي ئي، علما، منورين اوليکوالان دهغه په مبارك ژوند اواوچترکارنامو اواخلاقوباندي رڼاچوي ليکن ډير افسوس دمسلمان امت هراړخيزحالت خصوصاً دنړي شانګه ئي د ښه کيدو پرځاي لابدترېږي ، دمحمدصلي الله عليه وسلم داتباع پرځاي دکفري نړي اتباع کولي شي هماغوجه ده چي مسلمان امت له پوداسي بوګنرونکي حالت سره مخامخ دي چي دژوندانه په هروګرکي خپل اسلامي هويت اووقارئي له لاسه ورکړي اوډير ګناګراوبي سرنوشت قوم په څير دغلامۍ ژوند تيروي، دي لپاره چي مسلمان امت خصوصاً دافغانستان مسلمان ولس له دغي ويرجني اوبخپلو کي پروبل دمري دغونځولو له فضائه نجات بيا، مومي ددي خبري اشدضرورت دي چي پخپل ژوندانه اکره وړه له سره نظرواچوي خپله ټوله مينه دالله جل جلاله اومحمد مصطفى صلي الله عليه وسلم لپاره خاصه کړي، خپل ټول اعمال اوکړه وړه درسول الله صلي الله عليه وسلم :. دستوريه مطابق سرته ورسوي، خپل ټول عمر دپيغمبر عليه السلام په متابعت کي تيرکړي ځکه چي پرالله ايمان اوله هغه (ج) سره مينه پدي مشروط دي چي دمحمدصلي الله عليه وسلم متابعت وکړي شي، لکه چي الله پاك پخپل کلام پاك کي فرمايلي دي « قل ان کنتم تحبون الله فاتبعوني يحببکم الله » اي محمده خپل امت ته ووايه چي که تاسي الله سره محبت کول غواړي نوزمامتابعت وکړي الله به تاسي سره محبت وکړي، بيله شکه چي افغانستان اوټول اسلامي هيوادونه په هغه صورت کي له دغوموجوده بدمرغيونه نجات موندلي شي اوژوند له خوږونه ګټه پورته کولي شي [illegible] دمحمدمصطفى صلي الله عليه وسلم په نقش قدم باندي روان شي [illegible] الله عليه وسلم په راوړي مقدس دين باندي عمل وکړي لوی الله دي [illegible] الله عليه وسلم متابعت اوپيروي زموږ په نصيب کړي .

آمين [illegible]

دفاتحې اعلان

الحاج محمداکبر منګل، امان الله منګل، عبدالله منګل، الحاج داودمنګل، محمدولي منګل، محمدنعيم منګل، الحاج نجيب الله منګل زامن ، متقاعد ډګروال صالح ګل منګل، الحاج رئيس محمدامين منګل، الحاج انجنير محمدابراهيم منګل اوشاه زمان افضل زاده زومان، فاروق منګل، همايون منګل، صديق منګل، عبدالوحيد منګل، احمدشاه منګل، تيمورشاه منګل، طارق منګل اوخالد منګل لمسيان ، دمرحوم تورن جنرال نيك محمدخان دميرمنې دمړينې له امله چي جنازه يې پخوادموسي خيلو په ولسوالي کي خاوروته سپارل شوي ده . دوستانوته خبرورکوي چي دفاتحې مراسم يې دسه شنبي په ورځ داسد په نهمه نېټه چې دجولاي له ۳۰ مې سره سمون خوري دحيات آباد دسوپرمارکيټ په جامع جومات کي ترسره کيږي.

۲-۱

خبرتيا

دافغان سيدجمال الدين رفاهي مؤسسه دبوټ ګنډلو، ولډنګ کارۍ، حلبي سازۍ اوترکاڼۍ (۶) مياشتني کورسونو لپاره چي د۱۹۹۶م کال اګست مياشتي په لمړۍ نېټه چي د۱۳۷۵ کال دزمري ۱۰مې نېټې سره سمون خوري مهاجرمحبوب ورونه په لاندينيو امتيازاتو سره په پښتورکي دشاګرد په توګه مني :

۱- ليليه (دهغه محبوبينو لپاره چي دتګ راتګ توان ونلري).
۲ - مياشتني مناسب جيب خرڅ
۳ - دسواد اوديني علومو زده کړه دمجربو استاذانو له خوا.
٤ - دکورس په پاي کي تخنيکي تصديقنامه ، سواد زده کړي تصديقنامه اوشاګردلپاره هغه سامان چي دکورس په جريان کي پري کارکوي وورکول کيږي .

مينه وال ورونه دي زرترزره دنوم ليکلولپاره په لاندي پته مراجعه وکړي .
آدرس : جمرود روډ نعمت مرکز ايستګاه، د شرطيه ماول سکول شاته دسيدجمال الدين افغاني رفاهي مؤسسه .
تلفون : (۴۲۷۹۳)

اعلان کانکور

به آګاهی فارغان صنوف دوازدهم مکاتب ومدارس اناث رسانيده ميشود که امتحان کانکور شموليت در پوهنتون امهات المؤمنين بتاريخ اول اګست ۱۹۹۶اخذميګردد . کسانيکه خواهش شموليت درامتحان کانکور را دارند جهت ثبت نام واخذفورمه شموليت الى أخير برج جاري (جولاى ۱۹۹۶) به پوهنتون امهات المؤمنين به آدرس ذيل مراجعه نمايند:

آدرس:فيز ۱، D-1 سرك۳ ،خانه نمبر ۶۳ حيات آباد -پشاور

نوت:
۱- تدريس ،سهولت ترانسپورت وتداوي محصلان درپولي کلينيك پوهنتون مجاني ميباشد .
۲-کارهای عملی محصلان وستاژيران پوهنځي طب در پولي کلينيك پوهنتون وشفاخانه هاى مشهورپشاورصورت مى ګيرد.
۳- پوهنتون امهات المؤمنين در پوهنځي هاى طب، ساينس (بيولوژي وکيميا ، رياضي وکمپيوترساينس) شرعيات ، ادبيات وتعليم وتربيه محصل مي پذيرد.

۲-۳